د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

# رغونه
## اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د صفرالمظفر ۲۹مه، ۱٤٤۷ هـ ق کال
وږی/سـنبله ۰۱مه، ۱۴۰۴ هـ ش

لومړی کال، پرله پسې ۲۷مه ګڼه


### په دې ګڼه کې لولئ:


بلخ — د مولانا جلال الدین محمد بلخي نړیوال هوایي ډګر سړک د قیر اچولو، روښنانتیا او تزیین چارې په چټکۍ سره روانې دي

خوست — د زمري ۲۴مه په ځانګړو مراسمو سره ولمانځل شوه

بلخ — مزارشریف ښار کې د یوه سـړک کانکریټ اچولو چارې بشـپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

غزني — دولت اباد د سـړک د کانکریټ چارې ۴۰ سـلنه بشپړې شوې

پکتیکا — ښـار کې د خپـل سرو او موقتـي رغونـو د مخنیوي ترڅنګ د ښـاري نظم ټینګښت عملیات ترسره شول

کاپیسا — محمودراقي ښـاروالۍ لخوا د استوګنیزو کورونو سروې د صفايي محصول د تثبیت په موخه ترسره شـوه

کندهار — د ښـاري پراختیا په موخه د کندهار ښاروالۍ یو بل مهم ګام

هرات — د هرات ښـاروالۍ د پنځمې ناحیې اړوند بهزاد جادې لویدیځې برخې کانال د رغولو پروژې چارې روانې دي

کندهار — دنولسـم ګذر دمانده حریم کیندنې جغلي سـړک جوړونې او ډېکتیرانو اډې دعمومي لارې د جغل اندازۍ چارې جریان لري

هرات — کار احداث کانال از مسـیر جوی انجیل تا باغ اسلامی مربوط ناحیهء اول شاروالی هرات جریان دارد

بلخ — کار سـاخت یک منـار در شـهر مزارشریف به سرعت جریان دارد

ننګرهار — د کـوز کنړ پـه عبدالخیلو کـې عمومي سـړک بیرته پرانیستل شو


### کار اسفالت لایهء اول و دوم بخش باقی‌مانده لین شرق سرک از مسیر فلکهء درب عراق تا خواجه کله شهر هرات آغاز گردید


هرات

### خوست ښاروالۍ د ۲۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د سړکونو او لښتیو پروژه بشپړه کړه


خوست

### کار ساخت سرک پسته مزار الی گذر مارمل در شهر مزارشریف به سرعت جریان دارد


بلخ

# رغونه اونیزه

## د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست


### د مولانا جلال الدین محمد بلخي نړیوال هوايي ډګر سړک د قیر اچولو، روښنانتیا او تزیین چارې په چټکۍ سره روانې دي




د مزارشریف ښار د مولانا جلال الدین محمد بلخي نړیوال هوايي ډګر څخه تر نوي ښار څلورلارې پورې د ۲،۵ کیلومتره په اوږدوالي او ۱۴ مترو سور سره د سړک د قیر اچولو، روښنانتیا او تزیین چارې د ۶۴ میلیونه افغانیو په لګښت د ښاروالی له انکشافي بودجې څخه په چټکۍ او ښه کیفیت سره روانې دي.

د پروژې څخه د پاملرنې مسؤل انجنیر نور الله مهمند ووېل: یاد سړک کې د لښتیو جوړول، د روښنانتیا ستنې لګول، د سړک کرښې اچول، منځنی ګلدان جوړول، سمسورتیا او د یوه معیاري سړک نور جزئیات پکې شامل دي، چې د کانالونو، کیندنې، خاورو ایستلو، بستر جوړول، سیم تاوی او کانکریټ اچولو چارې یې په ښه کیفیت او چټکۍ سره روانې دي.

د قراردادي شرکت مسؤل ډاډ ورکړ چې د یادې پروژې چارې به په معیاري ډول، د قرارداد شرطپاڼې سره سم او ټاکلي وخت بشپړې کړي.

### د داوطلبی خبرتیا!

د کندهار ښاروالی ملکیت د (۹) ناحیې اړوند د الکترونیکي تذکرو دوهم زون مخته د وسایطو پارکینګ د شرطپاڼې مطابق د یوه کال لپاره د ازادې داوطلبی له لارې په اجاره ورکول کیږي.

ټول هغه اشخاص چې په شرایطو برابر وي او غواړي چې په داوطلبی کې ګډون وکړي، خپل غوښتنلیکونه دې د۱۴۰۴ کال د زمري میاشتې له ۲۲ نېټې څخه بیا د سنبلې میاشتې تر۱۳ نیټې پورې د ښاروالی ریاست د تدارکاتو او قراردادونو امریت ته وسپاري او وروسته دې شرطپاڼه له مسؤل څخه تر لاسه کړي.

د اجارې له سرجمع څخه ۲۰٪ شل فیصده تضمین نقداً اخیستل کېږي او د داوطلبی مجلس به د روان کال د سنبلې میاشتې پر ۱۵ نېټه چې د شنبې ورځ ده د سهار پر ۹ بجو د تعین شوې هیئت په حضور کې د تدارکاتو او قراردادونو په امریت کې ترسره کیږي.

د لازیاتو معلوماتو لپاره زموږ سره په لاندې شمېرو اړیکه ونیسئ.

۰۷۰۷۱۵۹۷۱۸ واتساپ شمېره.

۰۷۰۰۴۳۳۵۶۷ تلیفون شمېره.

کندهار

### از ۲۴ اسد روز فتح افغانستان توسط امارت اسلامی با حضور داشت والی هرات، مسؤولین ادارات، وکلای گذر ۱۵ ناحیه شاروالی انجیل و مردم ولایت تجلیل به عمل آمد.




### د ازادۍ د ویاړلې ورځ په مناسبت غونډه ترسره شوه




د افغانستان د اسلامي امارت د ازادۍ ورځ د لمانځنې مراسم شینوارو ولسوالی د غني خېلو ښاروالی مربوط ښار مارکو عالي لیسه کې ترسره شوه.

د شینوارو ولسوالۍ ولسوال، امنیه قوماندانی معاون، استخباراتو مدیر، ننګرهار ولایت معارف ریاست معاون، شینوارو ولسوالۍ د معارف مدیر او د غني خېلو ښاروالی ښاروال قاري عالم الدین نیازي او ګڼ شمېر مشرانو، علماء کرامو، متنفذینو، معلمینو، د ښار اصنافو مشرانو ګډون کړی او په شاندارو مراسمو سره د زمري ۲۴ مې د ازادۍ ورځ چې افغانان بشپړه خپلواکي لري ولمانځل شوه.

### کندهار ښاروالی د کلچه پزانو له هټیو څخه دنظارت چارې ترسره کړې




د کندهار ښاروالی مارکېټونو تنظیم امریت له لورې داخل په اوله او څلورمه ناحیه کې د کلچه پزانو له هټیو څخه د لایحې مطابق نظارت ترسره شو.

دغه نظارت کې دکلچو، خوراکي توکو د وزن، کیفیت او قیمت معلومولو ترڅنګ، ټولو کلچه پزانو مسؤلینو او کارکونکو ته د نظافت او صفايي مراعاتولو او همدارنګه د فعالیت جواز نوي کولو په اړه هم مهمې او لازمې سپارښتنې وشوې.

د یادولو وړ ده، چې د مارکېټونو تنظیم امریت له لورې ورته کمپاینونه او کنټرول دمنظم پلان له مخې په دوامداره توګه ترسره کیږي.

### اسعداباد ښار د اداري چارو د بهبود په موخه اداري ناسته ترسره شوه




د اسعداباد ښاروال مولوي نظرمحمد عتیق په مشرۍ د اداري مجلس ناسته ترسره شوه، ښاروال مولوي عتیق پر وخت د خدمتونو وړاندي کولو، عوائیدو تحصیل، ښاري نظم، IFMS سیستم له طریقه د رهایشي او تجارتي تعرفو توزیع او دې ته په ورته موضوعاتو بحث او سپارښتنې وکړې.

د اجندا سره سم د ښاروالی اداري کارکونکو د خپلو مدیریتونو په نویو برنامو او ترسره شویو موضوعاتو معلومات وړاندې کړل او د ښاروال څخه یې د پروګرامونو د تطبیق په برخه کې د همکاریو هیله وکړه.

د نن ورځې د اداري مجلس په پای کې یو لړ خاص مسؤلیتونه او دندې مسؤلینو ته وسپارل شوې او همدا راز په ځینو خاصو مواردو تصامیم او پرېکړې وشوې.

### کندهار ښاروالی په ښار کې د پلمټو او یخي د کارخانو څخه نظارت ترسره کړ




د کندهار ښاروالی اړوند د مارکېټونو تنظیم مدیریت دا ځل د یخي او پلمټو جوړولو له کارخانو څخه د نظارت په موخه له نږدې لیدنه وکړه.

په دغه لیدنه کې د یخي او پلمټو کارخانو مسؤلینو او کارکوونکو ته د نظافت او پاکوالي مراعتولو، د صحت کارت درلودلو، ځانګړې لباس اغوستلو، د فعالیت جوازونو د نوي کولو، د باکیفیته او غوره تولیداتو وړاندې کولو او چاپېریال ساتنې ته د جدي پاملرنې په اړه مهمې سپارښتنې وشوې.

د یادونې وړ ده چې د مارکېټونو تنظیم مدیریت به د خپل پلان له مخې د ښار د مختلفو تولیدي کارخانو څخه د نظارت بهیر دوامداره وساتي.

## د زمري ۲۴مه په ځانګړو مراسمو سره ولمانځل شوه




په خوسـت کې د ولايتي اداري په مشرى د زمري ۲۴مه د ځانګـړو مراسـمو په ترڅ کـې ولمانځل شـوه، چې ګنو حکومتي مسؤولينو ولسي وګړو پکې برخه درلوده.

د خوسـت ښـاروالی، اطلاعاتو او کلتور او اسـتخباراتو رياسـت له لوري د ښـار په دخـولي دروازو باندې د دې ورځې د مبارکۍ بيرونه نصب شول، چې مختلف شعارونه پرې ليکل شوي وو.

همدارنګه د ښـاروالی لخـوا د تفريحي غونډې د ۳۰ متره بيرغ ترڅنګ د ښار په مختلفو واټونو، څلورلارو او روښنايي پايو باندې بيرغونه نصب شول او د شپې له لوري د ښار په عمومي جادو د تزيين پايې په څراغونو سره روښـانه وې.

پـه مختلفو نهادونو کـې غونډې وشـوې او د ځوانانو ټيه باندې د جمعي مازديګر عمومي راټولېدنه ترسره شوه، چې د ښاروالی، اطلاعاتو او کلتور او نورو ادارو له لوري تنظيم شوې وه، چې پدې غونډه کې حکومتي او ولسي ګډونوالو برخه لرله او د امريکايي اشـغال د خلاصون ورځې په تړاو يې خپل احساسات شريک کړل.

د زمـري ۲۴مه د افغانسـتان اسلامي امـارت د واک ته رسـيدو ۴مه کليزه ده، چې د هېواد پـه ټولو برخو کې د جمعي په ورځ ولمانځل شـوه او په ناسـتو کې ولس ته د تيرې څخـه د خونديتوب او هيواد رغونـې او پراختيا ډاډ ورکړل شـو او دغه ورځ د فتحې په نوم لمانځل کيږي.

## لومړۍ او دويمـه ناحيه کې د پلې لارو غير قانوني زينې او قفسچې لرې شوې




د غزني ښـاروالی رياست د ښـاري نظم مديريت د ښار د ښکلا د تګ راتګ د اسـانتيا او د عامه لارو د خلاصون په موخه په لومړۍ او دويمه ناحيه کې د بزازي او شـفاخانې د سـړک په اوږدو کې له پلې لارو څخـه ټولې غير قانوني زينې او قفسچې لرې کړې.

د ښاري نظم مدير ښاغلي حافظ زياته کړه چې د ښاروالی د رهبرۍ په جدي سپارښتنه دا ډول غير قانوني جوړښتونه په ټول ښـار کې تعقيبيږي او په راتلونکې کې به هم ورته اقدامات وشي.

نوموړي له ټولو هېوادوالو وغوښـتل چې د ښـاري اصولو او مقرراتو مراعات وکړي او د عامه ځايونو له غصب څخه ډډه وکړي.

## د قلات ښـاروالی له لوري د اسـد ۲۴مې د ازادۍ ورځې د لمانځلو په موخه ټرانسـپورټي او خدماتي اسانتياوې برابرې شوې




د زابل ولايت ښاروالی لخوا د زمري ۲۴مې د ازادۍ ورځې لمانځلو په وياړ، قلات ښـاروالی د خپلـو اړوندو موټرو له لارې ښاريانو د غونډې او پروګرام ځای ته له هغې وروسته بېرته ښار ته انتقال کړل.

د ښاروالی موټرو د اوبو رسولو خدمت هم ترسره کړ تر څو د مراسـمو ګډونوال د اړتيا وړ سـهولتونه ولري. سربېره پر دې، د ښـاروالی خدمتي کارکوونکو د مراسمو د ځای په تنظيم او نظافت کې فعاله ونډه واخيسـته، څو دا ملي ورځ په منظم او ښايسته فضا کې ولمانځل شي.

## جوانـان نخبه کانکور در ولايت پروان توسـط شـاروالی چاريکار مورد تشويق قرار گرفتند




طی محفلی از نخبگان کانکور مرکز و ولسـوالی‌های پروان و استادان مراکز آموزشـی آمادگی کانکور ، توسط حافظ راز محمد ياسر شـاروال شـهر چاريکار با اهدای تحسين نامه و تحايف مورد تقدير قرار گرفتند.

حافظ راز محمد ياسر شـاروال شهر چاريکار در سخنرانی خويش به جايگاه جوانان در اسلام اشاره نمود و جوانان را به استفاده اعظمی از دوره‌ی تحصيلی تشويق و ترغيب نمود .

اين جوانان و استادان مراکز آموزشی از اقدام شاروالی در راسـتای تشـويق جوانان و دانش‌آموزان نخبه پروان ابراز قدردانی نمودند.

## بهره برداری از ۳۵ زباله‌دانی سنگی در شهر چاريکار




شـاروالی چاريکار ولايت پروان جهت بهبود وضعيت محيط زيسـت و نظم شـهری، ۳۵ عدد زباله‌دانی سنگی در شش ناحيه شهر چاريکار رانصب و به بهره‌برداری سپرده است.

اين زباله‌دانی‌ها با ابعاد اسـتاندارد ۴ در ۳ متر و ارتفاع‌های ۱.۵ و ۵۰ سانتی‌متر، با هزينه مجموعی ۴۵۰ هزار افغانی از بودجه داخلی شـاروالی، توسـط سـکتور خصوصی اعمار گرديده‌اند.

باشندگان نواحی شش‌گانه شهر، با استقبال از اين اقدام، آن را گامـی عملی و مؤثر در حفظ نظافت شـهر دانسـته و از رهبری شاروالی قدردانی نمودند.

## ننګرهـار کې د ۱-۱-۱ خپلواکۍ څلورمه کاليزه په شـاندارو مراسمو سره ولمانځل شوه




زمري ۲۴مه د افغانستان ۱-۱-۱ خپلواکۍ ورځ د هېواد د نورو ولايتونـو په څېر پـه ننګرهار کې د ننګرهـار ولايت مقام په مشرۍ د جلال اباد ښـاروالی او نورو همکارو رياستونو له لوري د شهيد معلم اول ګل لوبغالي کې د ادارو د مشرانو او ولسونو له لوري په شاندارو مراسمو سره ولمانځل شو.

د ننګرهـار ولايت مرسـتيال مولوي عزيزاللـه مصطفی او د بيلابيلو ادارو مشرانو د يادې ورځې په ارزښت خبرې وکړې، د ورزشي لوبغاړو له لوري نمايشات وړاندې شول.

د جلال اباد ښاروال قاري بلال، د ښاروالی د نهه ګونو ناحيو مسؤولينو او کارکوونکو په يادې لويې غونډې کې ګډون وکړ.

**مديران عوايد و حکومتداری شـهری شاروالی شکردره ولايـت کابل به تعداد ۲۰ جواز و ۲ کتابچه صفايی برای مردم توزيع نمودند**

**کارگنان تنظيف و سرسبزی شاروالی شکردره به منظور حفظ زيبايی محيط زيست شهری، بهبود فضای زندگی شهروندان و حفاظت از سرسبزی آب خواره های نهال های کوچکين را بازسـازی کردند تا نهال ها به شـکل اساسی آبياری شود.**



## رییس سکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف از جریان کار پروژه های انکشافی نظارت نمود



بلخ ۱۴

محمد جاوید مایار رییس سکتوری و تخنیکی شاروالی شهر مزارشریف از پروژه انکشافی سرک پسته مزار مربوطات ناحیه اول که کندن کاری جویچه های دوطرفه سرک آن به سرعت جریان دارد ، سروی پروژه عریض سازی و اسفالت سرک چهار اطراف چهارراهی فردوسی مربوطات ناحیه ششم و جریان کار عریض سازی سرک از چهارراهی کفایت الی گذشته از سرک حلقوی که کار کندن کاری و لنگر کاری سرک مذکور عنقریب آمده اسفالت وقیریزی میباشد در ناحیه چهارم و نهم شهرد نظارت نمود.

در جریان بازدید بر کیفیت و تطبیق پروژه ها مطابق شرطنامه قرارداد به صورت اساسی و معیاری تطبیق شود در وقت معینه تأکید نمود.

در جریان نظارت الحاج استاد محمد جاوید مایار رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی ، دیپلوم انجنیر سید محبوب شاه اکبری مدیر عمومی زیر بناهای شاروالی و تیم انجنیری شاروالی نیز حضور داشتند.

الحاج استاد محمد جاوید مایار رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی بر کیفیت پروژه ها تأکید نموده و از شرکت های قراردادی خواست تا کار های پروژه را مطابق طرح و دیزاین انجنیران شاروالی انجام دهند

مسئولین شرکت قراردادی برای رییس سکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف اطمینان سپرد تا پروژه های مذکور مطابق شرطنامه قرارداد به شکل اساسی و در اسرع وقت تکمیل خواهد کرد.

همچنان آقای مایار در جریان نظارت کار اعمار یک بلند منزل در ناحیه دهم شهر مزارشریف را به دلیل تخطی از اصول و مقررات شاروالی متوقف نمود.

## د فراه ولایت ښاروالۍ فوټسال لوبډلې د هلمند په کورېتوب د ولایتي ټورنمنټ اتلولي وګټله



پروان ۱۵

یاد ټورنمنټ د هلمند په کورېتوب تېره پنجشنبه په VIP ورزشي کمپلیکس کې د نیمروز، فراه او د هلمند ولایت د دوه لوبډلو په ګډون پیل شوی وه، د هلمند بارک او د فراه ولایت ښاروالۍ فوټسال لوبډلې ترمنځ ترسره شوه.

چې یاده لوبه د فراه ښاروالۍ له لوري په بریا سره پای ته ورسیدله.

## د جلال اباد ښاروالۍ ښاري پولیسو ته نوي لباسونه وویشل شول



ننګرهار ۱۶

د جلال اباد ښاروالۍ ښاري پولیسو ته چې په ښار کې د ګنې ګوڼې د کمولو او تنظیم په موخه کار کوي د رهبرۍ د پریکړې او همکارو ادارو په مشورې نوی یونیفورم وویشل شول.

د جلال اباد ښاروالۍ د عوایدو امر اکبر علي بریال له لوري ښاري پولیسو ته سپارښتنې وشوې چې په ښار کې د تنظیم په موخه ډېره هڅه وکړي او له یادو لباسونو څخه غیر قانوني استفاده ونه کړي.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبرۍ د خپلو کارکوونکو د نظم او دسپلین په برخه کې ژمنه ده او هڅه کوي ټولې برخې په اړونده لباسونو تنظیم کړي.

## خوست ښاروالۍ د ویش مارکېټ کوځه له خنډونو پاکه او پراخه شوه



خوست ۱۷

د خوست ښاروالۍ اړوند د دریمې ناحیې مربوط ویش مارکېټ کوځه چې نږدې ۸۰ کلنه یې د بېلابېلو خنډونو له امله تړل شوې وه، د یادې ناحیې عمومي مدیریت مسؤولینو له تنظیف مدیریت سره په همغږۍ د ښاریانو پرمخ ببرته خلاصه کړه.

یاده کوځه کې نه یوازې خنډونه لیرې کړل شول، بلکې بشپړه وینځل شوه او د ښه چاپېریالي ترڅنګ یې ښار ته ښکلا ورکړه.

په یاد اقدام ښاریانو خوښي څرګنده کړه او غوښتنه یې وکړه چې ښاروالۍ د پلې لارو او نورو تړلو سړکونو د خلاصولو چارې هم چټکې کړي.

د یادونې وړ ده چې د لاس ګاډیو او کوچنیو کاروباریانو لپاره، د ښاروالۍ اداري له نورو دولتي ادارو سره په ګډه یوه منظمه طرحه باندې کار روان کړی، چې د تطبیق په صورت کې به دوی ته ځانګړي ځایونه په نښه شي.

## مزارشریف ښار کې د یوه سړک کانکریټ اچولو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



بلخ ۱۸

د مزارشریف ښار نهمې ناحیې نوشاد مېنې کې د لوړ پوړیزو ودانیو شاته د یوه سړک کانکریټ اچولو چارې د ۵۹۰ مترو په اوږدوالي او ۸ مترو په سور سره د مزارشریف ښاروالۍ پراختیایي بودجې څخه د ٦ میلیون افغانیو په ارزښت بشپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

همدارنګه نوموړې پروژه کې د لښتیو او پلچکونو جوړولو هم شامل وو.

د یادې پروژې په بشپړېدو سره، د وسایطو او د دې سیمې اوسېدونکو لپاره د تګ راتګ ګنې اسانتیاوې برابرې شوې دي.

شاروالی پلخمری ولایت بغلان با همکاری ریاست اطلاعات و فرهنگ این ولایت، از ۲۴ اسد چهارمین سالروز فتح افغانستان توسط امارت اسلامی و خروج نیروهای اشغالگر امریکایی، با برگزاری مراسمی شایسته و اجرای برنامه‌هایی چون نصب بیرق‌ها، پاک کاری شهر و توزیع آب آشامیدنی به اشتراک‌کنندگان در برنامه تجلیل، گرامی‌داشت به عمل آورد.



بغلان ۱۹

کمیته نظم شهری شاروالی میمنه ولایت فاریاب، در هماهنگی با ناحیه سوم و مدیریت کنترول مارکیت‌ها، پیاده‌روهای جاده هرات را از اموال اضافی، پیک‌های غیرمعیاری و لوحه‌های نصب‌شده بر درختان پاک‌سازی کرد. مسئولین تأکید دارند که اصناف شهری برای حفظ نظم بازار با این کمیته همکاری نمایند.



بغلان ۲۰

رغونه
اونیزه

د ولایاتـــو او ولســـوالیو ښـــاروالیو د فعالیتونو او
لاسته راوړنو خبري اونیزه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

## دولت‌اباد د سړک د کانکریټ چارې ۴۰ سلنه بشپړې شوې



غزني ۲۱

د غزني ښــاروالی ریاســت د ښــار د پراختیا او ښاري خدمتونو د ښــه والي په موخه د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونــو د دفتر (UNOPS) په همکارۍ د دولت‌اباد د ســړک د دربیمي پروژې د کانکریټ چارې رواني دي.

یاده پروژه چې د ۸ میلیونه افغانیو په مالي لګښــت پلې کېږي او ۵۰۵ متره اوږدوالی لري د کانکریټ چارې یې تر دې دمه ۴۰ ســلنه بشپړې شوې دي.

د تخنیکي مســؤولینو په وینا د پاتــې کارونو د ګړندي کولو هڅــې رواني دي او تمه ده چې دا ســړک د یوې میاشتې په موده کې بشــپړ او د خلکو د ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

لــه دې پروژې سره بــه نه یوازې د ســیمې د تګ راتګ ســتونزې حل شي بلکې د شاوخوا ۱۰۰ تنو کارګرو لپاره د کار زمینه هم برابره شوې ده.

د پروژې مســؤولین ټینګار کوي چې ټول رغنیز کارونه د لازم تخنیکي معیارونو پر بنســټ پر مخ وړل کېږي څو د سیمې اوسېدونکو ته دایمي ســهولتونه رامنځته شي.

## دسپین بولدک ښاروالی له لوري دحاجي ملک کوڅې شمال لورته مانده کېدنې دحریم څخه یې دجغلي سړک جوړونې چارې رواني دي



کندهار ۲۲

د کندهار ولایت ســپین بولدک ښــاروال مولوي لطف‌الله لطیفي د هدایت سره ســم، د ښاروالی اړوند انجنیري ټیم د خپــل انکشــافي پلان په لړ کې د حاجــي ملک کوڅې شمال لوري ته د مانــده کېدنې او د حریم څخه د جغلې سړک جوړونې چارې پیل کړې دي.

دغه چارې چې دا مهال روانــې دي، موخه یې د ترافیکي ګڼې ګوڼې کمول، ښــاري نظم ته وده ورکول او د ښــاري پراختیا زمینه برابرول دي.

## د خپلواکۍ پر منار د خوست ګرانښت جمله ولګول شوه




خوست ۲۳

د خوســت ښــار ځلورمه ناحیه کې د خپلواکۍ پر منار د انوري مطبعي په مالي لګښــت د خوست ګرانښت جمله د ځانګړو مراسمو په ترڅ کې ولګول شوه.

د مراسمو په پیل کې د ښــاري حکومتوالی امر محمدالله شــیرزي د ټولو راغلو میلمنو مننه وکړه، چې مراسمو ته یې ښــکلا ورکړه او ترڅنګ یې د انوري مطبعي د مســؤولینو دغه ګام وســتایه چــې په خپلې پانګې سره یې د ښــاري ښکلا په برخه همکاري وکړه.

د نوموړي پر وینا چې خوست ښاروالي په ټولو برخو کې په ښاري خدمتونو بوخته ده، خو د خصوصي سکتور همکاري د ښار ښکلا کې مهم رول لري.

د انوري مطبعي مســؤول کمین محمد انوري له خپله اړخه ډاډ ورکړ، چې د خپلې پانګې پر اســاس یې د خوست سره د ګرانښــت په موخه دغه کار وکړ، ترڅو نور پانګه وال هم دې برخې ته زړه ښه کړي.

پــه وار سره د اطلاعاتــو او کلتور ریاســت د اطلاعاتو امر مولــوي ســبحان الله عــزام، پخــواني ښــاروال انجنیر عبدالبصیر محمدزي او رشــیدالله همدرد د دې غوره کار ستاینه وکړه، چې ښــاروالي او خصوصي سکتور په ګډه د خوست ښار په ښکلا کې برخه وال دي او د نورو تجارانو نه یې هم غوښــتنه وکړه، چې د ښــار په ځلورلارو جوړولو او ښکلا کې برخه واخلي.

باید یــاده کړو، چې پدې ســمبول نړدې یولــک افغانۍ لګښــت راغلی او ترڅنګ یې د ښار په مرکزي برخه کې د بربښــنا پر پایو هم د روښنايي د ښکلا برنامه ترسره کېږي، چې مالي لګښت به یې د دوی پر غاړه وي.

**مدیریت تنظیف و سرســبزی شــاروالی انجیل ولایت هرات، کانال‌های شــاهراه امام بخاری رح را پاک‌کاری کرده است.**

**باشــندگان محل از این اقدام را اســتقبال نمودند و از جانب مدیر تنظیف شاروالی انجیل ولایت هرات وعده داد که لوش و زباله‌ها به بیرون از شهر انتقال می گردد.**



هرات ۲۴

## ښــار کې د خپل سرو او موقتي رغونو د مخنیوي ترڅنګ د ښاري نظم ټینګښت عملیات ترسره شول



پکتیکا ۲۵

د پکتیکا ولایت ښــرنې ښــاروالی ریاســت د ښــاري نظم ټینګښت کمېټې له لوري د ښار په مختلفو برخو کې د خپل سرو او موقتــي رغونو د مخنیوي ترڅنګ، د پلي لارو، سرکونو او خدماتي ساحو د خلاصولو عملیات ترسره شول.

ددغو اقداماتو په جریان کې د غزني په مسیر دوه بابه اطاقونه او یــو سرای، چې په خپــل سري ډول د پلاني اصولو خلاف رغول شوي و، له منځه یووړل شول.

د ښاریانو د غوښتنې سره سم او د ښاري نظم تامین په هدف ښار کې د ښاروالۍ مارکېټونو ته څېرمه د علي بابا لیسې له دیوال سره په موقتي ډول رغول شوي دوکانونه له منځه یووړل شول.

همدارنګه د ښــار په مختلفو برخو کې د پلي لارو، سرکونو او خدمــاتي ســاحو د خلاصولو اقدامــات ترسره شــول او د سرغړونکو توکي او کراچۍ ورڅخه انتقال شوي.

د یادونې وړ ده، چې د ښــرنې ښــاروالی ریاست رهبري د ښاري نظم تامین، خپل سرو او غیر اصولي رغونو د مخنیوي او خلکو ته د تګ راتګ اسانتیاوو برابرولو په هدف یوه ځانګړې کمېټه ایجاد کړې؛ ترڅو په یادو برخو کې دوامدار او اصولي اجرات سرته ورسوي.

## د قصابانو له صنف څخه نظارت ترسره شو

د کندهار ولایت ســپین بولدک ښــاروالۍ د مارکېټونو د تنظیم ماموریت د څارنې ټیم لخوا د قصابانو د پاکوالي، د مسلخ مهر تطبیق، د نرخونو کنټرول او د ښاري نظم رعایت په موخه نظارت ترسره شو.

په دې نظارت کې ټولو قصابانو ته د نظافت او ښاري نظم د مراعاتولوسپارښتنې وشوې.

د یاد نظــارت موخه دا ده چې د مختلفو ناروغیو مخنیوی وشي، ښاري نظم وساتل شي، او هغه غوښه چې د مسلخ مهر نه لري، له ښــار څخه لیرې کړل شي. که کوم قصاب بې مهره غوښــه وپلوري، قصابي یې تــړل کېږي او بیا د شکایت حق نه لري.

ننګرهار ۲۶

رغونه
اونیزه
د ولایاتـــو او ولســـوالیو ښـــاروالیو د فعالیتونو او
لاسته راوړنو خبري اونیزه
د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

## د کاریزک له پله څخه بیا د شـیدايي تر ښـار، د سـړک د اسـفالټ پروژې د اسـاسي رغونې او زیر سازۍ له بهیره څارنه او کنټرول ترسره شو



غزني ۲۷

د هـــرات ښـــاروالۍ د تخنیکـــي او مســـلکي ریاســـت انجنیر تیمونه د پنځلسـمې ناحیې اړوند د کاریزک له پله څخه بیا د شـــیدايي تر ښـــار د سړک شمال برخې اســـفالټ پروژې بنســـتېزو طبقاتو او ســـب ګرید لایې د اجرا کولو ټېســـټونو او کار له بهیره څارنه او کنټرول ترسره کړ او د څارنې پـــه لړ کې قراردادي شرکت ته د تخنیکي معیارونو پـــام کې نیولـــو سره لازمي لارښـــوونې وکړل شوې.

د ویلو ده، دغه پروژه ۲۲۰۰ متره اوږدوالی او ۸ پلنوالی لري، چې د هرات ښـــاروالۍ پرمختیايي بودجې څخه د شـــاوخوا ۲۷ میلیون افغانیو په ارزښـــت د پلي کېدو په حال کې ده.

## د غني خېلو ښاروالۍ له لوري هغه هټۍ وتړل شوې چې پلي لاره يې بنده کړې وه



ننګرهار ۲۸

ننګرهـــار ولایت غني خېلو ښـــاروالۍ ښـــاروال قاري عالم الدیـــن نیازي، د خپـــل اداري پرســـونل سره د غني خېلو ښـــاروالۍ مربوط پله سره ښار کې، هغه هټۍ چې پلي لاره يي بنده کړي وه مهرلاک شـــوې، په داســـې حال کې چې خـــواري د ښـــاروالۍ له لوري د پلـــي لارې د خلاصولو توصیـــه هم ورته شـــوې وه او بیـــا يي هم نومـــوړي عمل تکرارولو صورت کې هټۍ وتړل شوې.

## محمودراقي ښاروالۍ لخوا د اســـتوګنیزو کورونو سروې د صفایي محصول د تثبیت په موخه ترسره شوه



کاپیسا ۲۹

محمودراقي ښاروالۍ د ښاري خدمتونو د کیفیت لوړولو او د صفایـــي محصول د دقیق تثبیت په موخه د اســـتوګنیزو کورونو سروې د ښـــار په لومړۍ ناحیه کې پیل کړې ده.

کاپیســـا ولایت محمودراقي ښاروالۍ د انکشافي پلانونو پر بنســـټ عملي ګـــام پورته کړی، چې هدف یې د ښاري چارو شفاف، منظم او اغېزمن ډول ترسره شي.

پـــه همدې لړ کې، نن د لومړۍ ناحیې اړوند دباباعلي زاړه ښار پاتې ساحه سروې شوه.

د یادوني وړده چې دا پروګرام به د ښـــار نورو ناحیو ته هم وغځول شي،ترڅو ټول ښاریان د معیاري صفایي خدمتونو څخه برخمن شي.

**کمیته نظم شـــهری کمیســـیون نظم و توسعهٔ شهری شـــاروالی میمنه، به‌منظور ایجاد ســـهولت در رفت‌وآمد عابران پیاده، کاهش تراکم ترافیکی، رفع انسداد پیاده روها و تأمین نظم و انســـجام در شـــهر، اقدام به جمع آوری دست‌فروشـــان و چهارتیره‌داران از پیاده‌روهای اطراف پارک مرکزی نموده است.**



فاریاب ۳۰

## از کار جویچه های سرک نمازګاه ولســـوالی خُلم نظارت صورت ګرفت

انجنیر نقیب‌الله ایوبی، مدیر ساختمانی شاروالی ولسوالی خُلم ولایت ســـمنګان با هماهنګی مسؤول دفتر اکتید و انجنیر شرکت ســـاختمانی مربوط از رونـــد پیشرفت کار جویچه‌های سرک نمازګاه بازدید و نظارت به‌عمل آوردند.

در این نظارت به کیفیت اجرآت و استفاده از مواد معیاری توجه صورت ګرفت و به بخش‌های مسؤول تأکید ګردید تا در تمـــام مراحل کاری از مواد باکیفیت و مطابق نقشـــه استفاده نمایند.

قرار است پس از تکمیل کار جویچه‌ها، پروژه کانکریت‌ریزی سرک یادشده به‌طول ۵۵۰ متر و عرض ۵ متر آغاز ګردد.

مسؤولین شاروالی خُلم متعهد به تطبیق معیاری پروژه‌ها جهت خدمت‌ګذاری بهتر به شهروندان می‌باشد.

سمنګان ۳۱

## د میدان ښـــار ښاروالۍ له لوري ښاریانو ته د عامه پوهاوي برنامې په پار ناسته تر سره شوه




میدان وردګ ۳۲

د میدان ښار ښاروالۍ له لوري، د ښاري فرهنګ پیاوړتیا او د صفایي محصول د ارزښـــت په اړه ښاریانو ته د عامه پوهاوي برنامو د اغیزمن تطبیق په موخه د ټاکل شوي کمېټې له غړو سره د همغږۍ ناسته ترسره شوه.

یاده ناسته د ښاروال ملا رازمحمد فاروقي په مشرۍ ښاروالۍ ریاســـت کې جوړه شوې وه، چې پکې د ښاروالۍ، ارشاد حج او اوقافو، علماوو شورا او امربالمعروف ریاستونو استازو ګډون کړی و.

د ناستې په ترڅ کې پرېکړه وشوه، چې د پوهاوي برنامه به په مســـجدونو، ښـــوونځیو او عامه ځایونو کې عملي شي؛ ترڅو ښـــاریان د صفایي محصول پر اهمیت او د ښـــاري اصولو پر رعایت لا ښه وپوهېږي.

## شاروال شـــهر چاریکار با دکانداران و اصناف مختلف شهر چاریکار دیدار نمود



پروان ۳۳

حافظ راز محمد یاسر، شـــاروال شهر چاریکار ولایت پروان با اصناف مختلف، کسبه‌کاران و دکانداران شهر چاریکار دیدار و ګفتګو نمود.

شـــاروال شـــهر چاریکار در مورد اضافه‌ستانی و بندش پیاده روها، پرداخت کرایه و اخذ جواز صنفی و نظافت شهر صحبت نمود و خواهان همکاری اصنـــاف و دکانداران در این موارد ګردید.

دکانداران شـــهر چاریکار نیز در مورد مشکلات و چالش‌های خویش صحبت نمودند و تعهد ســـپردند که در موارد صفایی شهر، پرداخت کرایه و اخذ جواز صنفی و خودداری از اضافه ستانی توجه جدی می‌نمایند.

برای اولین بار شاروالی ولسوالی سیدخیل ولایت پروان ۱۸پایه زباله دانی فلزی معیاری را در نقاط مختلف بازار سیدخیل نصب نمود. این پروژه به منظور صفایی بازار سیدخیل به اساس پیشنهاد دکانداران و شهروندان این ولسوالی با هزینه ۱۱۸۸۰۰ افغانی از بودجه انکشافی شاروالی سیدخیل عملی می‌شود.



پروان ۳۴

## د ښاري پراختیا په موخه د کندهار ښاروالۍ یو بل مهم ګام



کندهار ۳۵

کندهار ښــاروالی د خپلو پراختیایي انکشــافي کارونو په دوام کې داخل د ښــار پــه اوومه ناحیه کــې د پنجوایي دراهي سړک د اساسي او معیاري رغونې چارې پیل کړې.

ددې سړک د رغولو پرانیست غونډه داسي حال کې ترسره شــوه چې پکې د کندهار ښاروال مولوي عبدالله روحاني، تخنیکــي او ســکتوري رئیس مولــوي نورالباقي خادم، د ښــاروالی انجینرانو، د شرکت مســؤولینو او دسیمو خلکو ګډون کړی وو.

دا ســړک چــې د ۱۱۰۰ متره پــه اوږدوالي او ۴۰ متره پلنوالي سره جوړېږي، تېر کال یــې د پراخېدو په موخه د اســتملاک او تخریب چارې تر سره شــوې. د یاد سړک په مسیر کې چې کوم هتی، کورونــه او نور موانع موجود وه هغه تخریب شــول اوس یې د اســاسي رغولــو چارې پیل شوې.

ددې ســړک رغنيزې چارې په دوه فــازه کې ترسره کېږي اوس یــې لومړی فاز چــې ۱۱۰۰ متره اوږدوالی، د ویالو، ګلــدان او پلــې لارو پــه شــمول ۲۰ متره پلنوالی لري، ساختماني چارې پیل شوې او د شپږو میاشتو په موده کې به یې ټول کارونه بشپړ شي. د دوهم فاز کارونه به هم ډېر ژر پیل او ددې کال تر پایه به بشپړ شي.

د یــادوني وړده چې پر نوموړي پــروژه ۷۰ میلیونه افغانیو لګښــت راځي چې د کندهار ښاروالی له انکشافي بودجې څخه ورکول کېږي.

## د سپین بولدک ښاروالی د ګډې کمیټې لخوا د ښاري نظم د ټینګښت عملیات روان دي



کندهار ۳۶

د کندهار ولایت ســپین بولدک ښاروالی د ښاري انضباط مدیر په مشری، د ښــاري نظم د ټینګښت په موخه د ګډې کمیټې لخوا د ښــار په بیلابیلو سیمو کې پراخ کمپاین هره ورځ ترسره کېږي.

په ځانګړي توګه، هغو کسانو ته چې د ښاري اصولو خلاف یې د عمومي ســړک پر مســیر باندې سرغړونې کړې وې، اخطار ورکړل شــو او د هغوی توکي، جیګی، کوکې، او نور خنډونه انتقال کړل شول.

د یادوني وړ ده چې د ښــاروالي ریاســت رهبري د ښاري نظم د تامیــن، د غیرقانوني رغونــو د مخنیوي، د خلکو د تګ راتګ د اســانتیاوو برابرولو په موخــه یوه ځانګړي او فعالــه کمیټه جوړه کړې، تر څو په دوامداره او اصولي توګه پر یادو برخو کار وکړي.

## رئیس ســکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف از جریان کار پروژه های انکشافی نظارت نمود




بلخ ۳۷

اســتاد محمد جاوید مایار، رئیس ســکتوری و تخنیکی شــاروالی شــهر مزارشریف با حضورداشــت آمر نظارت و ارزیابی شاروالی، آمر سکتوری شاروالی، مدیر عمومی زیر بناهای شــاروالی و تیم انجنیری شــاروالی از پروژه های انکشافی شهر مزارشریف نظارت نمود.

وی از پروژه های انکشــافی سرک پســته مــزار مربوطات ناحیه اول کــه کندن کاری جویچه های دو طرفه سرک آن به سرعت جریان دارد، از هوتل ســتاره در کارته آریانا مربوطــات ناحیه دهــم، از جریــان کار کانال های سرک میدان هوایی مولانــا جلال الدیــن محمد بلخی الی چهارراهی شــهرنو مربوطات ناحیه یازدهم و از چهارراهی شهر نو نیز دیدار و نظارت نمودند.

رئیس ســکتوری و تخنیکی در جریان نظارت بر کیفیت و تطبیق پروژه ها مطابق شرطنامه قرارداد به صورت اساسی و معیــاری در وقت معین آن تأکیــد نموده و از شرکت های قراردادی خواســت تا کارهای پروژه هــا را مطابق طرح و دیزاین انجنیران شاروالی انجام دهند.

مســؤولین شرکت های قــراردادی به رئیس ســکتوری و تخنیکی شــاروالی مزارشریف اطمینان ســپردند تا پروژه های مذکور مطابق شرطنامه قرارداد به شکل اساسی و در اسرع وقت تکمیل شود.

## غني خېلو ښاروالۍ له لوري د تنظیف چارو دوام




ننګرهار ۳۸

د ننګرهــار ولایت غني خېلو ښــاروالي د مارکو ښــار کې د تنظیف چارې تر سره کړې، چــې همدغه چاره د غني خېلو ښاروالۍ مربوط ښارونو کې د منظم پلان له مخې دوام لري. د هتیوالو څخه مو هیله ده چې خپل چاپېریال پاک وساتئ.

## جلسه کمیته کنترُل و نظم شهری مزارشریف دایر گردید




مزار شریف ۳۹

جلسه کمیته کنترُل و نظم شهری شاروالی مزارشریف در تالار جلسات ریاست شــاروالی مزارشریف با مالکان و نمایندگان مارکیت های چهار اطراف روضه مبارک دایر گردید.

الحاج اســتاد محمد جاوید مایار، رئیس سکتوری و تخنیکی شــاروالی مزارشریف گفت که پارکینگ های داخل شهر یک نیاز مهم می‌باشــد و هر چی عاجل پارکینگ وســایط نقلیه خویش را فراهم سازید تا تردد و ازدحام کم شود. پ

همچنان آقای مایار تأکید نمود تا ساختمان های که بیش از پنجاه الی هفتاد ســال قدامت دارد و پارکینگ وسایط را در نظر نگرفته دو باره بازسازی گردد.

مســؤولین و نمایندگان مارکیت های اطــراف روضه مبارک اظهار نمودند که با ریاست شاروالی مزارشریف همکاری همه جانبه می‌نمایند.

کارکنان و ماشــینری شــاروالی شــهر چاریکار ولایت پروان جهت حفر پایپ آب آشــامیدنی برای اهالی گذر چهارم ناحیه پنجم این شهر، ســاحه متذکره را کندن کاری نمودند.



پروان ۴۰

## دوهمه ناحیه کې پلې لارو د عامه ښـاریانو په مخ خلاصې شوې



کنړ ۴۱

د کونړ ولایت اسـعداباد ښـاروالۍ د ښـاري خدمتونو مدیریـت په هلو ځلو په دوهمه ناحیه کې پلې لارې تخلیه شـول او هټیوالو ته سپارښتنه وشـوه چې د پلرو په اموالو دې پلې لارې نــه بندوي د سرغړونې پــه صورت بهکې د قانوني چلند سره مخ شي.

د يادې برخې مسـؤول محمد شعیب سلیمزي وایي د پلې لارې د تخلیـې،لاسي کاډې پلورنکو د بې نظمۍ مخنیوۍ او په ښـار کې د ګنې ګونې د کمښت په موخه د ځانګړي پلان له مخې خپل فعالیتونه پرمخ وړي او هیڅاته اجازه نه ورکوي چې په ښار کې بې نظمي رامنځته کړي.

## د هرات ښـاروالۍ د پنځمــې ناحیې اړوند بهــزاد جادې لویدیځې برخې کانال د رغولو پروژې چارې روانې دي



هرات ۴۲

د بهزاد جادې لویدیځې برخې کانال د رغولو پروژې چارې د ۱۴۵۰ متره پــه اوږدوالي او د شــاوخوا ٦.٥ میلیــون افغانیو په ارزښت د پلې کېدو په حال کې ده.

د ویلو ده، د هرات ښـاروالۍ انجنیران او مسـؤولان هره ورځ په منظـم او دوامداره توګه د پروژو د کیفیت او کمیت څخــه څارنــه کوي، ترڅو د پــروژو چارې پــه معیاري او استندرد ډول په خپل ټاکلي مهال بشپړې شي.

## روداتو ښاروالۍ د تنظیف عملي چارې پیل

ننګرهار ولایت روداتو ښاروالۍ، د تنظیف حصارشاهي ښار کې کثافات راټول او له ښار لرې انتقال شول.

تنظیف چارې د روداتو ښاروالۍ مربوط ساحو کې پلان له مخې دوام لري.

له تاسو درنو موهیله ده چې خپل چاپیریال پاک وساتئ.

#زموږ_ښار_زموږ_راتلونکی

#شهرما_آیندما

#روداتو_ښاروالۍ

ننګرهار ۴۳

## کار آســفالت لایهء اول و دوم بخش باقی‌مانده لین شرق سرک از مســیر فلکهء درب عراق تا خواجه کله شهر هرات آغاز گردید



هرات ۴۴

کار آســفالت لایهء اول و دوم بخــش باقی‌مانده لین شرق سرک از مسیر چهار راهی فلکهء درب عراق تا خواجه کله، مربوط ناحیهء چهاردهم شهر، پس از تکمیل کار زیرسازی آن، از سوی شاروالی هرات آغاز گردید.

قابل ذکر اســت که پروژهء آسفالت هر دو لین شرق و غرب سرک از مســیر خواجه کله الی پایان آب، همراه با احداث کانال های آن، به طول مجموعی حدود ۳۲۰۰ متر و عرض متوسط هر لین ۱۰.۵ متر، به هزینهء حدود ۴۴.۵ میلیون افغانی از بودجهء انکشــافی شاروالی هرات، توسط شرکت ساختمانی «انکشاف غرب» تطبیق می‌گردد.

## خوست ښاروالۍ د ۲۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د سړکونو او لښتیو پروژه بشپړه کړه



خوست ۴۵

په همدې اړه جوړو شــویو مراسمو کې د ښاروالۍ تخنیکي او ســکتوري امریت امر، انجنیر جاوید جمشید وویل چې خوســت ښــاروالۍ له پراختیایي بودجې څخه د ښــار په دوېمه او دریمه ناحیه کې ۵۳۰ متره ســړکونه، ۵۷۹ متره لښــتې، او ۸ پلچکونه چې پکې شامل وو، ګټې اخیستنې ته وسپارل.

د ښاغلي جمشید په خبره، ښاروالۍ په ښار کې د اړتیاو له مخې د تفصیلي پلانونو مطابق رغنیزې پروژې تطبیقوي او د ځینـــو نویو ســـړکونو د مســـیر تېرولو او همدا شـــان د اســتملاک پروسه روان ده، تر څو د ښاریانو حقوق خوندي او دوی ته ښار کې اړیني اسانتیاوې رامنځته شي.

تازه ګټې اخیســتني ته سپارل شوې پروژه د اکبر نصرت او صلحیې ستوري ســاختماني شرکتونو لخوا د ٦ میاشتو په موده کې بشـــپړه شوه، او د شرکت مسؤولینو په خپلو خبرو کې د قرارداد مطابق د معیاري چارو داډ ورکړ.

د يادې پروژې له تطبیق سره، ښاریانو خوښي ښودوه او له خلکو یې وغوښــتل چې د عامه پروژو په تطبیق او ســاتنه کې پوره همکاري وکړي.

د يادونې وړ ده چې خوســت ښاروالۍ په تېرو نږدې څلورو اونیو کې د ښــار د داخلي یو شمېر سړکونو، د دولتي ادارو پلې لارو، لښتیو او لســګونو پلچکونو د جوړېدو چارې پیل کــړې دي، او په نږدې ورځــو کې به د ځینـــو نورو پروژو بنسټ ډبرې کېښودل شي.

## دنولســم ګذر دمانده حریم کیندني جغلي ســړک جوړوني او ډیکټیرانو اډې دعمومي لارې د جغل اندازۍ چارې جریان لري



کندهار ۴۶

د کندهار ولایت ســپین بولدک ښــاروال، مولوي لطف‌الله لطیفي، د هدایت سره سم او د ۱۴۰۴ مالي کال د انکشافي پراختیایي پلان له مخې، د ښــاروالۍ انجنیري ټیم د ښار د بیلابېلو برخو دجغلي سړکونو د جوړولو چارې روانې دي.

په دې لړ کې، د نولسم ګذر د مولوي حنیف کلي کې د مانده د کیندلو او د حریم څخه د جغلي سرک جوړونې چارې روانې دي. همـــداراز، د دریم ګذر د ډیکټرانو اډې ته چې پر یوه لویه عمومي لاره موقعیت لري، د جغل اچونې چارې هم په چټکۍ سره روانې دي.

دغــه پرمختیايي اقدامات به د ښــاریانو لپــاره د تګ راتګ اسانتیاوې رامنځته کړي.

## مهترلام ښار کې د کرکټ د لوبغالي مزایده ترسره شوه



لغمان ۴۷

د لغمان ولایت مهترلام ښاروالۍ اړوند په دریمه ناحیه کې د کرکټ لوبغالي لپاره ځانګړې شوې ځمکه د قرارداد په موخه په رسمي ډول په مزایده کې وړاندې شوه.

یــادە مزایده د مهترلام ښــاروالۍ د تعین شــوې کمېټې په حضور کې د تدارکاتو د قانون مطابق د دریو داوطلبانو ترمنځ ترسره شوه چې سلیمان د میاشتې ٦ زره او ۳۵۰ افغانیو لوړ نرخ ورکولو سره ګټونکی وپېژندل شو.

یــادە دې وي، چې د مهترلام ښــاروالۍ د ټولــو ملکیتونو د قراردادونو چارې د هر کال په اوږدو کې د شفافیت او حساب ورکونې د اصل پر بنسټ د عام اعلان او ازادې سیالۍ له لارې ترسره کېږي.

## غزني ښار کې د هوټلونو د څارنې لړۍ ترسره شوه




د غزني ښاروالۍ ریاســـت د مارکېټونو د تنظیم مدیریت له لوري د ښـــار په بیلابېلو هوټلونو کې د څار او ارزونې لړۍ ترسره شوه.

د مارکېټونو د تنظیم مدیر ضیاالرحمن رشـــیدي وویل چې د یادې څارنې موخه د ښـــار د نظافـــت کچې لوړول او د ښاریانو د روغتیا خوندیتوب دی.

د رشـــیدي په وینا د څارنې پر مهال هغه هوټلونه وستایل شـــول چې د پاکوالي اصول یې په ښه ډول رعایت کړي وو خو پر ځینو نورو هوټلونو ته اخطاریې ورکړل شـــوې، ترڅو ژر تـــر ژره د نظافت او چاپېریال ســـاتنې په برخه کې لازم اصلاحات راولي.

ښاغلي رشـــیدي زیاته کړه چې د ښاروالۍ اړوند مدیریتونه ښار د ښـــاري نظم نظافت او د خلکو ژوند د اسانتیا لپاره پـــر خپلو هڅو ټینګار کوي او د یـــادو مقرراتو په پلي کولو کې هېڅ ډول سهل‌انګاري نه کېږي.

د غزني ښاروالۍ ریاست له ټولو هوټل لرونکو او کاروونکو غوښـــتنه کړې چې د ښـــاریانو د روغتیا ساتنې او د ښار د ښکلا لپاره د پاکوالي اصولو ته جدي پاملرنه وکړي څکه د ښاروالۍ څارنې به په پرله‌پسې توګه دوام ولري.

**مدیریت ناحیه دوم شاروالی میمنه در کنار سایر فعالیت های روزمره خویش، کار ساخت‌وساز یک بلند منزل در گذر خواجه‌آباد مربوط ناحیه دوم شهر میمنه را به دلیل عدم رعایت مقررات شـــهری و بی‌توجهی در زمینه اخذ جواز قانونی از شاروالی متوقف ساخت.**




## کندهار ښاروالۍ د پنځمې ناحیې له متنفذینو، علماوو، مشرانو او د ولس له استازو سره د همغږۍ مجلس ترسره کړ




د کندهار ښاروالۍ له لوري د پنځمې ناحیې له متنفذینو، علماوو، مشرانو او ګذر وکیلانو سره د همغږۍ او د اسلامي نظام د ملاتړ په موخه مجلس ترسره شو.

په دغـــه مجلس کـــې د کندهـــار ښـــاروالۍ تخنیکي او ســـکتوري رئیس، د ښـــاروالۍ حقوقي او شرعي مشاور، د شوراګانو او مجالســـو عمومي مدیر، د دعوت او ارشاد امر او مدرس، د پنځمې ناحیـــې امر او د ناحیې ګذر وکیلانو، مشرانو او متنفذینو ګډون کړی وو.

په پیل کې د کندهار ښـــاروالۍ حقوقي او شرعي مشاور د اسلامـــي حکومتولۍ پر اساســـاتو او د اسلامـــي نظام پر ښېګڼو هر اړخیزې خبرې وکړې.

وروســـته د کندهار ښـــاروالۍ تخنیکي او ســـکتوري چارو رئیس ټولو ګډونوالو ته د ۱۴۰۴ مالي کال د روانو او پلان شـــویو انکشافي پروژو په اړه مفصل معلومات وړاندې کړل.

په پای کې د پنځمې ناحیې د ګذر وکیلانو په اســـتازیتوب یو تن وکیل د پنځمې ناحیې په ســـطحه د ولس نظریات، مشورې، مشـــکلات او وړاندیزونه له مسؤولینو سره شریک کړل او مســـؤولینو هم د هغوی خبرې واورېدې او د ستونزو د حل ډاډ یې ورکړ.

## خوست ښار د پلیو لارو جوړېدو چارې عملاً پیل شوې




یاده پروژه د خوست ښـــاروالۍ له پراختیایي بودجې څخه تمویلېږي، چې ټولیز لګښت یې ۱۲ میلیونه افغانۍ دی.
دا پـــروژه ۲۰۸۰ متره اوږدوالی لـــري او د لعل احمدزي ساختماني شرکت له‌خوا پلي کېږي. په پروژه کې د لومړۍ ناحیې د ســـولې پـــارک او د خلورمې ناحیې د ښـــاروالۍ تفریحي پارک مخې ته پلې لارې شاملې دي. چارې یې د ښاروالۍ د انجینرانو په حضور کې عملاً پیل شوې او تاکل شـــوې چې په خلور میاشتو کې به یاده پلې لاره په اساسي ډول ورغول شي.

د یادونې وړ ده چې ورمه ورځ خوســـت ښاروالۍ د دویمې او دریمـــې ناحیو کې د ۲۷ میلیونه افغانیو په لګښـــت د سړکونو او لښـــتیو پروژه بشـــپړه کړه او ګټې اخیستنې ته وسپارله.

**د شهید هادي الحق "مســـتقیم" واټ تر مسجد نبوي څلـــورلارې پورې د ۷۰۰ متر پر اوږدوالي د ســـړک یوې غاړې کانکریټي ویالې جوړولو کار بشـــپړ او نړدې ورځو کې به یې ګټې اخیستنې مراسم تر سره شي**
**دغه پروژه چې د ګردیز ښاروالۍ په چوکاټ کې د ملګرو ملتونو بشري اســـتوګن ځایونـــو دفتر یو ان هیبټاټ په مرسته تطبیق شوه، پاتې چارې یې چې د الومنیمي جالیو نصب ده په نږدې ورځو کې ترسره شي.**




## کندهار ښار د پنځمې ناحیې اړوند د صنعتي پارک په ساحه کې د یخې جوړولو له کارخانو څخه نظارت ترسره شو




د کندهار ښاروالۍ د مارکېټونو تنظیم امریت له لوري، د ښار د پنځمې ناحیې اړوند د صنعتي پارک په ســـاحه کې د یخې له کارخانو څخه د نظارت چارې ترسره شوې.

یاد نظـــارت د حفظ‌الصحې، د یخې کیفیـــت معلومول او د ټاکل شوي نرخ د تطبیق په موخه ترسره شو. همدارنګه د دې نظارت پر مهال مســـؤولینو د اوبو د کیفیت د خوندي ساتلو لپاره د یادو کارخانو له فلټرو څخه هم څارنه وکړه.

د دې ترڅنګ، د یخې جوړولو کارخانو مسؤولینو او کارګرو ته لارښوونې او سپارښتنې وشوې، څو د نظافت اصول په جدي ډول مراعات کړي، د فعالیت جوازونه نوي کړي او ټاکل شوي نرخنامه عملي کړي.

## برگزاری مشاعره به مناسـبت ۲۸ اسد - یک‌صدوششمین سالروز استقلال افغانستان



نیمروز ۵۳

شــاروالی زرنج ولایت نیمروز با همکاری ریاست اطلاعات و فرهنگ این ولایت به مناســبت یک‌صدوششمین سالروز استقلال و استرداد حاکمیت ملی کشور از سلطه استعمار انگلیس، برنامه‌ی مشــاعره‌ای را تحت عنوان "استقلال و آزادی" در تالار پذیرایی تاج‌محل برگزار نمود.

در این محفل فرهنگی، شــاروال شــهر زرنج، رئیس دفتر مقــام ولایت، رئیــس اطلاعات و فرهنگ، معاون ریاســت اســتخبارات، نماینــدگان ادارات امارتــی، اعضای بورد مشورتی شــاروالی، وکلای گذر، نمایندگان اصناف، شعرا، نویسندگان، اســتادان و شــخصیت‌های فرهنگی حضور داشتند.

محفل با تلاوت قرآنکریم آغاز گردید و پس از آن، شــاروال زرنج در پیونــد به برگزاری چنیــن برنامه‌هایی و گسترش فضاهای فرهنگی و ادبی ســخنرانی کرد و تاکید کرد تا با اســتفاده از این برنامه ها در میان جوانان اســتعداد یابی گردد و زمینه رشد جوان فراهم گردد.

در ادامه، جمعی از شــاعران و اهل قلم، سروده‌ها و اشعار خویش را بــا مضامین آزادی، غیرت ملی، مقاومت اسلامی و عشق به وطن با شور و احساس خاصی ارائه کردند که با استقبال گرم حضار رو به رو گردید.

همچنــان در مجلس متذکره جهت تطبیق بهتر فرمان نمبر ۱۷ عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله یک پارچه تمثیلی با عنوان رواج های ناپسنــد مــروج در جامعه برای اشتراک کنندگان تمثیل گردید.

این مجلس با دعــای خیر و آرزوی سربلنــدی برای ملت مسلمان افغانستان به پایان رسید.

**کمیته تنظیم شهر درشاروالی قلعه نو ولایت بادغیس، اطراف مسـجد جامع شریف، بازار حاجی عزیز و بازار گنج ‌زاز وجود چرخ های سیار و گاری ها تخلیه نموده و به تعداد ده پایه ترازو را بمنظور اصلاح چرخ داران جمع آوری و به اداره شاروالی انتقال داده است.**



بادغیس ۵۴

## کار احداث کانال از مسـیر جوی انجیل تا باغ اسلامی مربوط ناحیهء اول شاروالی هرات جریان دارد



هرات ۵۵

کار پــروژهء احــداث کانــال از جادهء ســی‌متره الی باغ اسلامی تا جوی انجیل و همچنــان از اخیر جادهء باغسرا (سرک دولت‌خانــه) الی باغ اسلامی، بــه طول مجموعی ۱۴۹۵ متر و بــه هزینــهء بیش از ۷.۵ میلیــون افغانی از بودجهء انکشافی شــاروالی هرات، در ناحیهء اول شهر در حال تطبیق می‌باشد.

قابل ذکر اســت که تطبیق این پروژه تحت نظارت دوام‌دار انجینران و مسئولان مربوطهء شاروالی به‌گونهء معیاری و در مدت تعیین‌شده صورت می‌گیرد.

## محمودراقي ښارګوټي کې د صفايي محصول د تثبيت په موخه د استوګنيزو کورونو سروې دوام



کاپیسا ۵۶

د ښــاري خدمتونو د لا ښــه والي او د صفايي محصول دقيق ثبت په موخه، محمودراقي ښاروالۍ له خوا د ښار په دويمه ناحيه کې د استوګنيزو کورونو سروې ترسره شوه.

ياده سروې د ښاروالۍ د انکشــافي پلانونو له مخې ترسره کېږي، څــو د صفايي محصول مديريت شــفاف، منظم او اغېزمن شي.

په همدې لړ کې، نن د دويمې ناحيې اړوند د محمودراقي ښارګوټي استوګنيزو کورونو پاتې برخې سروې ترسره شوه.

د يادونې وړ ده چې دغه بهير به د ښــار نورو ناحيو ته هم وغځــول شي، ترڅو ټول ښــاريان لــه معيــاري صفايي خدمتونو برخمن شي.

## کار ساخت یک منار در شهر مزارشریف به سرعت جریان دارد



بلخ ۵۷

به اثر سعی و تلاش شاروالی مزارشریف، کار ساخت یک منار در مســیر سرک حلقوی در ناحیه ششم شهر توسط شاروالی مزارشریف به همــکاری شرکت فیصل خراســانی به منظور زیبائــی و تغییــر مثبت در چهره شــهر، تنظیــم ترافیک و جلوگیری از ازدحام به سرعت و کیفیت خوب کاری جریان دارد.

همچنان کار کندن کاری تهداب، خاک برداری و کار ســیم توی، راویز کاری و کانکریت ریزی آن تکمیل و سنگ کاری و تزئین آن تحت نظر انجنیران شاروالی مزارشریف جریان دارد.

## کار ساخت سرک پسته مزار الی گذر مارمل در شهر مزارشریف به سرعت جریان دارد



بلخ ۵۸

کار عملی ساخت (قیرریزی) سرک پسته مزار الی گذر مارمل در دو لین رفت و برگشــت در ناحیه اول شهر توسط شاروالی مزارشریف به سرعت جریان دارد.

سرک مزکور دارای ۱۱۴۰ متر طول و ۱۴ متر عرض می‌باشد که شامل ســاخت آبروها، گلدان وسطی و خط اندازی روی سرک اســت که کار آن تحت نظر انجنیران شاروالی و مطابق شرطنامه قرارداد به صورت اساســی و معیاری تطبیق خواهد شد.

## د کوز کنړ په عبدالخیلو کې عمومي سـړک بېرته پرانیستل شو



ننګرهار ۵۹

ننګرهار ولایت کوز کنړ ولسـوالۍ – د کوز کنړ ښاروالۍ د عبدالخیلـو په سـاحه کې هغه عمومي سـړک چې د تېرې شـپې د سـختو ورښـتونو لـه امله تخریب او د ټرافیکو پرمخ تړل شـوی و، بېرته پـاک او د خلکو پرمخ پرانیستل شو.

د ښاروالۍ مسـؤولینو په وینا، د سړک د بندېدو له امله د سـیمه ییزو اوسېدونکو او موټـر چلونکو د تګ راتګ سـتونزې رامنځته شوي وې، خو د ښاروالۍ د کارکوونکو پـه هڅو دغه لاره په بېړني ډول ترمیم او د ټرافیکو پر مخ خلاصه شوه.

د کوز کنړ ښـاروالۍ ټینګار کوي چې د ښار د سړکونو او عامـه تأسیسـاتو د خوندیتوب لپاره بـه خپلې هڅې لا پیاوړې کړي.

## دو پروژه انکشـافی به ارزش ۱۹ میلیون افغانی در شـهر مزارشریف آغاز گردید



بلخ ۶۰

دو پـروژه انکشـافی بـه ارزش ۱۹ میلیـون افغانی در سـاحات نواحی هشـتم و نهم شـهر توسـط شاروالی مزارشریف به همـکاری دفتر خدمات پروژوی سـازمان ملـل متحد با حضور اسـتاد محمد جاویـد مایار رئیس سـکتوری و تخنیکی شـاروالی، آمر ناحیه هشتم شهر، آمـر نظـارت و ارزیابی شـاروالی، مدیـر عمومی پلان گذاری، وکلای گذر و شـهروندان شهر آغاز گردید.

پروژه های مذکو شـامل، ساخت یا کانکریت ریزی کوچه بیسـتم دشـت شـور به طول ۵۵۰ متر و عرض ۶ متر و سـاخت کانال کانکریتی دشت در ساحات نواحی هشتم و نهـم به طول ۴۴۰ متر مي‌باشـد کـه کار پروژه های مذکـور در مدت دو ماه کاری تکمیـل و به بهره برداری سپرده خواهد شد.

اسـتاد محمد جاوید مایار، رئیس سـکتوری و تخنیکی شـاروالی مزارشریف در جریان آغاز پـروژه های متذکره گفت: شاروالی مزارشریف در نظر دارد به همکاری دفتر خدمات پروژوی سـازمان ملل متحد ۳۶ پروژه انکشافی در سطح شهر به صورت اساسی و معیاری تطبیق نماید.

همچنان آقای مایار برای مسئوولان پروژه ها تأکید نمود که پـروژه های مذکور را مطابـق شرطنامه قرارداد و در وقت معین تکمیل نماید.

مسـئوولان قراردادی پروژه ها از تطبیق پـروژه مطابق شرطنامه قرارداد به صورت اساسـی و معیاری و در وقت معین برای مسـئوولان شاروالی اطمینان سپرد.

از سـوی دیگر باشـندگان محل از آغاز ایـن پروژه ها اسـتقبال نمودند و آنرا جهت رفع مشکلات موجود مهم خواندند.

## قلات ښاروالۍ له لوري د ښار ښېرازۍ او سوداګریزې ودې په موخه د یو باب تجارتي مارکېټ د جوړولو چارې په منظم ډول دوام لري



زابل ۶۱

د یاد مارکېټ د کانکرېټ ریزۍ کارونه ترسره شـول چې په دې کـې د قلات ښـاروالۍ او د ښـار جوړونې ریاسـت تخنیکي انجنیرانو هم حضور درل.

د کار بهیر د پلان او تخنیکي معیارونو سره سـم پرمخ روان دی او د تـرسره کېدونکـو چـارو پر مهال هغـه کوچنۍ ستونزې چې موجودې وې، د انجنیرانو لخوا ورته د اصلاح سپارښتنې وشوې.

د قلات ښـاروالۍ تخنیکـي ټیـم هڅه کوي چـې د یاد تجارتي مارکېټ چارې په لـوړ کیفیت او ټاکلي وخت کې بشـپړې کړي ترڅو د ښـاریانو د اړتیاوو پـوره کولو او د سوداګریزو چارو د ښه کېدو لپاره یو معیاري مرکز برابر شي.

## تفاهم‌نامه همکاری دوجانبه میان ریاست های شاروالی شهر ایبک و ارشاد، حج و اوقاف ولایت سمنگان به امضاء رسید




سمنگان ۶۲

تفاهم‌نامه همکاری دوجانبه توسط الحاج مفتی ذبیح الله صیقل مدیر عمومی حکومتداری شـهری شـاروالی شهر ایبک و مولوی محمد افضل احمدی سرپرسـت ارشاد، حج و اوقاف ولایت سمنگان به امضاء رسید.

ایـن تفاهم‌نامه به هـدف آگاهی دهی مردم در قسـمت حفظ و مراقبت از محیط زیسـت، پاکـی، نظافت، تقویت فرهنگ ناب اسلامی و شهر نشـینی، غرس نهال، آبیاری، حفـظ و مراقبـت از درختان، جنگلات، سـاحات سـبز، پرداخـت صفایـی و هماهنگی در بخش حل مشـکلات شـهروندان و غیره امورات شهری توسط مسؤولین دو اداره به امضاء رسید.

## رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف از جریان کار پروژه های انکشافی در نواحی مختلف شهر نظارت نمود



بلخ ۶۳

استاد محمد جاوید مایار، رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریـف از جریـان کار پروژه های انکشـافی در نواحی مختلف شـهر دیدار و نظارت نمود در حالیکه تیم انجنیری شـاروالی و مسـئوولان شرکت های قـراردادی نیز حضور داشتند.

پروژه داغگیری سرک از چهارراهی فردوسـی الی چهارراهی کامگار که قیرریزی آن به سرعت جریان دارد دیدار نمود و از جریان کار کانال های سرک میدان هوایی مولانا جلال الدین محمد بلخی الی چهارراهی شهرنو مربوطات ناحیه یازدهم و از چهارراهی شهر نو نیز دیدار و نظارت نمود.

در جریـان نظـارت بر کیفیـت و تطبیق پروژه هـا مطابق شرطنامه قرارداد به صورت اساسـی و معیاری تأکید نمود و گفت که پروژه در وقت معین تکمیل شود.

رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی بر کیفیت پروژه ها تأکید نموده و از شرکت های قراردادی خواسـت تا کارهای پروژه را مطابق طرح و دیزاین انجنیران شاروالی انجام دهند.

مسـئوولان شرکت های قـراردادی برای رئیس سـکتوری و تخنیکی شـاروالی مزارشریف اطمینان سـپرد تا پروژه های مذکور مطابق شرطنامه قرارداد به شـکل اساسی و در اسرع وقت تکمیل خواهد کرد.

مدیریت تنظیف و سرسبزی شاروالی میمنه با هماهنگی مدیریت‌های نواحی این اداره، آبروهای جاده سنایی تا چهارراهی لیسه ابوعبید جوزجانی، سرک مخابرات و گذر اول ناحیه پنجم را لوش کشی کرده است.همچنان کثافات ناحیه اول و کوچه گل‌فروشی‌ها جمع‌آوری و زباله‌دانی‌های جاده لودین تخلیه و به بیرون از شهر انتقال داده شده است.

فاریاب ۴۳